## تالیف کوونکي:

پوهنمل دوکتور نظر محمد «حلیم» دکابل پوهنتون استاد.
دوکتور محمد حسن «سلیمی» د پوهنې وزارت د علمي شورا غړی.
پوهنیار هدایت الله «هدایت» د بلخ پوهنتون استاد.
د مؤلف مرستیال عتیق احمد«شینواري» د تعلیمی نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمی غړی.

## علمي اډیټوران:

دوکتور محمد حسن «سلیمي» د پوهنې وزارت د علمي شورا غړی.
پوهندوی دیپلوم انجینیر عبدالمحمد «عزیز» دکابل پوهنتون استاد.
پوهنیار محمد انور «شریفی» د پروان د عالي تحصیلاتو د انستیتوت استاد.

## د ژبې اډیټ کوونکي:

پوهنوال محمداجان «حقپال» دکابل پوهنتون استاد.
محمد قدوس «زکوخیل» د تعلیمی نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمی غړی.

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
-حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

## د څارنې کمېټه:

_ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.
_ دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.
_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

## کمپیوټر او ډیزاین:

وحیدالله «انورزاد» حمید کریمي (سنجدره یي)



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شميره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ١ | سريزه | ١ |
| ٢ | لومړی څپرکی: د اتوم اساسي اجزاوې | ٢ |
| ٣ | د اتوم تاريخچې ته کتنه | ٣ |
| ٤ | د لومړي څپرکي: لنډيز او پوښتنې | ١٠ |
| ٥ | دويم څپرکی: په دوراني جدول کې د عناصرو ترتيب | ١٢ |
| ٦ | د عناصرو دوره يي (تناوبي) جدول | ١٣ |
| ٧ | د دويم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٢٤ |
| ٨ | دريم څپرکی: کيمياوي رابطې | ٢٦ |
| ٩ | د ځينو مهمو مفهومونو يادونه | ٢٧ |
| ١٠ | د دريم څپرکې لنډيز او پوښتنې | ٤٢ |
| ١١ | څلورم څپرکی کيمياوي تعاملونه او معادلې | ٤٤ |
| ١٢ | کيمياوي تعاملونه | ٤٥ |
| ١٣ | کيمياوي معادلې | ٤٦ |
| ١٤ | د کيمياوي تعاملونو ډولونه | ٥٠ |
| ١٥ | د څلورم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٥٤ |
| ١٦ | پنځم څپرکی: داکسايډونو جوړښت او دکارولو ځايونه يې | ٥٦ |
| ١٧ | اکسيجن د تحمض کوونکې مادې په حيث | ٥٧ |
| ١٨ | د اکسايډونو نوم ايښودل | ٦١ |
| ١٩ | د سون موادو سوځول | ٦٢ |
| ٢٠ | د پنځم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٦٦ |
| ٢١ | شپږم څپرکی: مهم صنعتي مرکبونه | ٦٨ |
| ٢٢ | سره څه شی ده؟ | ٦٩ |
| ٢٣ | د شپږم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٧٨ |
| ٢٤ | اووم څپرکی: تيزابونه او القلي گاني | ٨٠ |
| ٢٥ | د اووم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ٩٢ |
| ٢٦ | اتم څپرکی: مالگې | ٩٤ |
| ٢٧ | د اتم څپرکي لنډيز او پوښتنې | ١٠٤ |

# لومړی څپرکی



## د اتوم اساسي اجزاوې

لـه ډېرو پخوانيو پېړيو راهيسـې پوهانـو د اتوم په باره کـې مختلفې نظريې وړانـدې کـړې دي. د هغوی لـه جملې څخـه د لرغوني يونان، فيلسـوف ديموکريت داسې نظر ورکړی دی: که چيرې ماده په پرله پسې توګه وويشو په پای کې داسې ذرې په لاس راځي چې نور نه ويشل کېږي. ديموکريت پردې ذرې د اتوم نوم کېښــود. د اتوم کلمه له يوناني اصطلاح د atomos څخه اخيستل شوې ده چې د نه ويشل کيدونکې معنې لري.


جـان دالتون هـم د ديموکريت نظريه ومنله او د اتوم لپـاره يې يو ډک کروي شـکله جوړښت وړاندې کړ، اما نن ثابته شوې ده چې اتوم د ويشلو وړ او له نورو ورو ذرو څخه جوړ شوی دی. تاسې به شپږم او اووم ټولګي کې د اتوم او د هغه د اجزاوو په باره کې لازم معلومات تر لاسه کړي دي.

په دې فصل کې د اتوم او د هغه د اساسي اجزاوو؛ لکه: اتومي نمبر، د کتلې نمبر او په مدارونو کې به د الکترونونو ويشل او دې ته ورته مطالبو په زده کړه به د کيمياوي تعاملونو او عناصرو ماهيت ساده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګروپونه او تناوبونه (دوري)

څرنګــه چــې په دوراني جدول کې ګورئ، په هغه کې افقي او عمودي قطارونه شــتون لري. د دوراني جدول افقي قطارونه د تناوب یا دورې (period) په نامه یادېږي. عنصرونه په پریودونو کې د هغوی د اتومي نمبر پرله پسی د زیاتوالی پر بنسټ ځای په ځای شوي دي؛ د مثال په توګه: د لیتیم اتومي نمبر ۳ د بیریلیم اتومي نمبر ٤، د بورون اتومي نمبر ٥، دکاربن اتومي نمبر ٦ او داســې نوردي چې ټول په یوه دوره کې ځای نیولي دي او د دوو څنګ په څنګ عنصرونو د اتومي نمبرونو ترمنځ توپیر یو دي.




(۳-۲)شکل د عنصرونو د دوراني
جدول دویمه دوره

څرنګــه چې د عنصرونو خواص په ټاکلو واټنو کې په ګرځنده بڼه تکرار کیږي، (د عنصرونو خواص په تناوبي شــکل تکرارېږي.) نو عنصرونو دیوې دوري د بشــپړېدو څخه وروسته په عمودي ستنو کې یو د بل لاندې لیکل کېږي.

په جدول کې عمودي ستنې دګروپ او یاکورنی په نوم یادېږي. عنصرونو په عمودي ستنو کې د هغوی د وروستي انرژیکي سوېې د الکترونونو د شمېر پر بنسټ ځای په ځای شوي دي؛ د مثال په توګه: هغه ټول عناصر چې په لومړي ګروپ کې ځای لري په خپل وروســتي انرژیکی قشــر کې یو الکترون لری. (٤-٢) شکل ته و ګورئ.

سره له دې چې هایدروجن یو غیرفلز دی او د هغه ډېر کیمیاوي خواص د لومړي ګروپ له نورو عنصرونو سره توپیر لری او په جلا توګه تر مطالعې لاندې نیول کېږي؛خو د لومړي ګروپ په سرکې ځای لري؛ نو ځکه د عنصرونو په لومړي ګروپ کې شپږ فلزي عنصرونه شته دي. هغوي ټول په خپل وروستنې قشر




(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فلزونو او غیرفلزونو د فزیکی خواصو پرتله

د فلزونـو او غیرفلزونـو فزیکي خواصـو ترمنځ توپیرونه پـه لاندني ډول په پرتليزه توګه وړاندې شوي دي:

| فلزونه | غیرفلزونه |
|---|---|
| ● د بریښنا او تودوخې تیرونکي دي. | ● د بریښنا او تودوخې تیرول یې ډېر ضعیفه دي. |
| ● د څټک خوړلو، ولې کیدو او د پاڼې کیدو ورتیا لري. | ● د څټک خوړلو په وخت کې یا ماتېږي او یا هم تیتېږي. |
| ● فلزونه ځلا لرونکي دي. | ● غیر فلزونه ځلا نه لري. |
| ● د کشولو او فشار په مقابل کې ډېر مقاومت لري. | ● د کشولو او فشار په مقابل کې لږ مقاومت لري. |
| ● د لوړ کثافت لرونکي دي. | ● د ټیټ کثافت لرونکي دي. |
| ● تل د ایشیدلو او ویلې کیدلو لوړ ټکي لري. | ● د ډېرو غیر فلزونو د ایشیدلو او ویلي کیدلو ټکي ټیټ دي. |
| ● ټول فلزونه جامد دي، پرته له پارې (Hg) چې د تودوخې په عادي درجه کې مایع حالت لري. | ● کاربن (C)، سلفر (S)، فاسفورس (P) او ایودین (I) په جامد حالت، برومین (Br) په مایع حالت، هایډروجن (H)، نایتروجن (N)، اکسیجن (O)، کلورین (Cl) او فلورین (F) په عادي شرایطو کې د ګاز په حالت شتون لري. |



(۱۰-۲) شکل د فلزونو او غیر فلزونو د ماتیدني پرتله کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## تعویضي تعاملونه

هغه تعاملونه ته وايي چې د يوه مرکب دځينو عنصرونو د اتومونو ځاي د نوره عنصرونو په واسطه عوض شي:

$$( ) + 2\ C( ) \longrightarrow C_2( ) + {}_2( )$$

$$2\ C( )\ 2\ ( ) \longrightarrow 2\ C( )\ {}_2\ ( )$$


## د فلزونو تعاملونه له غير فلزونو سره

فلزونه له غير فلزونو سره په آساني تعامل کوي او مالگې جوړوي، يوه له دې مالگو څخه چې هره ورځ په خوړو کې ترې گټه اخلو، د خوړو مالگه ده. د سوديم فلز چې په لومړي گروپ او کلورين چې په اووم گروپ کې ځاى لري، د تعامل څخه يې مالگه جوړه شوي ده. فلزونه په کيمياوي تعاملونو کې غير فلزونو ته الکترون ورکوي، په هر اندازه چې فلزونه په آساني الکترونونه د لاسه ورکړي، فعال فلزونه دي، غير فلزونه له فلزونو څخه الکترون اخلي. که غير فلزونه هم په آساني الکترون واخلي، فعال غير فلز بلل کيږي:

$$2\ ( )\ C_2( ) \longrightarrow 2\ C( )$$

په همدې ډول فلزونه؛ لکه: کلسيم (Ca)، جست (Zn)، اوسپنه (Fe) او نور کولاي شي چې په آساني له غير فلزونو سره تعامل وکړي او مختلف مرکبونه جوړ کړي؛ لکه: د کلسيم تعامل چې له برومين سره تر سره کيږي.

$$2C( )\ {}_2( ) \longrightarrow C\ {}_2( )$$



(٥-٤) شکل د سوديم تعامل له کلورين گاز سره



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تیزابونو او القلیو تعریف

د تیزاب یا اسـید کلمـه (acid) د یوناني کلمې (acidus) څخه اخیسـتل (مشتق) شوي ده چې معنی یې تریوالی دی. د القلي کلمه (alkali) یوه عربي کلمـه ده چـې ایرو تـه ویل کیږي چې زیاتـره د لرګیو ایرو ته چې د پوتاشـیم کاربونیت ( $_{2}C$ $_{3}$ ) لرونکي دي، نسبت ورکول شوي دی.

د تیزابونو د خاص، ساده او لومړنی تعریف سویډنی مشهور پوه سوانت ارینوس (Svante Arhenius) داسې توضیح کړي دي. تیزابونه هغه مرکبونه دي چـې پـه اوبو کـې د حل کېدو په وخت کـې د هایدروجن ایـون ($H^+$) جوړ کړي.

القلي هغه مرکبونه دي چې په اوبو کې د حل کېدو په وخت د هایدرو کساید ایون ($OH^-$) تولید کړي.

## د تیزابونو او القلیو اوبلن محلولونه

تیزابونـه او القلـي ګانې په اوبلنو محلولونو کې په ایونونو ټوټه کیږي. تیزابونه په خپـل اوبلن محلول کې څرنګه چې مخکې د تیزابونـو په تعریف کې وویل شول د هایدروجن ایون ($H^+$) د معادلې سره سم جوړوی:

$$C(\ ) \xrightarrow{\ _2\ } {}^{+}(\ ) + C^{-}(\ )$$

نور مرکبونه هم شـتون لري چې په خپل ترکیب کې د هایدروجن اتوم نلري؛ خـو د هغـو تعامل له اوبو سـره تیزاب تولیدوي ، پـه دې معنی چې د هغوی اوبلن محلولونه د هایدروجن د آیون لرونکي دي؛ نو دا ډول مرکبونه د تیزابي خاصیت لرونکي دي؛ لکه: کاربن ډای اکساید ( $C\ _2$ ) او سلفر ډای اکساید ( $_2$ ):

$$C\ _2(\ ) + \ _2\ (\ ) \longrightarrow [\ _2C\ _3(\ )] \longrightarrow {}^{+}(\ ) + C\ _3^{-}(\ )$$

القلي ګاني په خپل اوبلن محلول کې د هایدروکسـاید آیون ($OH^-$) د لاندې معادلې سره سم جوړوی:

$$(\ ) \xrightarrow{\ _2\ } {}^{+}(\ ) + {}^{-}(\ )$$

پوتاشیم هایدروکساید    د پوتاشیم ایون    د هایدروکساید ایون



(c) ketabton.com: The Digital Library

تماس د تخریب لامل ګرځي. د سمندرونو په زیاتو تروو اوبو کې ٪۱٦.٥ سودیم کلوراید (NaCl) شتون لري.



(٤-٨) شکل د مالګو د تهیه کولو انځور د سمندرونو له تروو اوبو څخه

**پوتاشـیم کلوراید** (KCl) **اهمیت**: دا مرکب له مهمو مالګو څخه ګڼل کیږي. په لابراتواري کې په نیغ ډول د مالګي تیزابو اوبلن محلول او د (KOH) پوتاشـیم هایدروکسـاید اوبلن محلول څخه لاسته راځي.

C( )　　( )→ C( )　$_2$ ()

KCl د سمندرونو په تروو اوبو کې ٪٤.٨٥ او په جامد ډول د سلوینایت (Sylvenite,NaCl.KCl) پـه کاني ډبرو (تیږو) په څیر په طبیعت کې پیدا کیږي. د پوتاشـیم کلورایـد مالګه د نباتاتو په وده او نمو کې او د زړه د تقلصاتو په تنظیم ( د زړه تقویه) کې ونډه لري. د پوتاشـیم کلوراید مالګه تقریباً ٪۹۰ د کیمیاوي سرې په حیث د سرو په ترکیب کې په مصرف رسیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

